ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.4 2021

# د ډاکټر علي خېل درياب په شاعرۍ کښې د قام پرستۍ يوه تحقيقي مطالعه

# An exploratory study of nationalism in Dr. Ali Khel Daryab's poetry

**لیلیٰ گل**
ایم فل ریسرچ سکالر، شعبہ پشتو یونیورسٹی آف ملاکنڈ
**ڈاکٹر بادشاہ روم**
ایسوسی ایٹ پروفیسر، شعبہ پشتو یونیورسٹی آف ملاکنڈ
**شہباز محمد**
ایم فل ریسرچ سکالر، شعبہ پشتو یونیورسٹی آف ملاکنڈ

**Laila Gul**
M.Phil Research Scholar at Pashto Department University of Malakand
**Dr. Badsha-i-Rome**
Associate Professor at Pashto Department University of Malakand
Mr. Shahbaz Muhammad
M.Phil Research Scholar at Pashto Department University of Malakand

ABSTRACT:

*The 21st century has marked a period of significant advancement for Pashto literature, with scholars armed with modern education making notable contributions across various literary domains. Among these scholars, Dr. Ali Khel Daryab stands out for his exceptional contributions to both Pashto poetry and prose. His works are characterized by their intellectual depth and artistic quality, reflecting the benefits of his extensive education. Dr. Ali Khel's poetry, in particular, addresses a wide array of themes, with nationalism emerging as a central and recurrent subject. This article delves into the exploration of nationalism within Ali Khel's poetic works, providing valuable insights for both researchers and students of Pashto literature. Through this analysis, the study aims to enhance the understanding of nationalist discourse in contemporary Pashto poetry and underscore Dr. Ali Khel's influential role in enriching the literary landscape of the Pashto language.*

keywords : 21st century , Modern education, Pashto, poetry ,Ali khel Daryab, nationalism

د کله نه چې په نړۍ کښې ادب زېږېدلے دے د هغه وخت نه په دې کښې وخت په وخت د ليکوالانو د بېلا بېلو تجربو په وجه فراختيا راغلې ده او د عصري غوښتنو او تقاضو مطابق يې خپل وجود نه صرف باقي پاتې کړے دے بلکې د نړۍ تر ټولو خوښ، هر دلعزيز او مهم ضرورت ګرځېدلے دے- هم دا ادب دے چې انسانان پکښې خپل جذبات او احساسات لټولې او رالېږزولې شي، د خپلې طبعې او مزاج مطابق خوندونه ترې اخيستې شي او خپل روح ته پرې تسکين رسولے شي- ادب د يوې ژبې او قام د بقا او پرمختګ ضامن وي او په دغه حواله د دې اهميت په هر دور او قام کښې مسلّم او منلے شوے دے-

په دغه حواله که مونږ اوګورو نو د ادب دوه لويې څانګې دي چې يو ته نثر او بل ته نظم وئيلې شي- چې ليکوالانو پرې په هر صنف او موضوع له رويه د عصري غوښتنو او د اولس د مزاج مطابق خپله طبعه

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.4 2021

ازمائېلي ده او دغه سلسله لا دوام لري- په دغه لړ کښي د نورو ډېرو موضوعاتو نه سربېره يو د قوميت موضوع هم ده کومه چي د هر ليکوال د فطرت برخه هم وي- قوميت په خپل نسل، ژبه، خاوره، کلتور او مذهب باندي فخر او وياړ ته وئيلي شي او دا تورے د قوم نه مشتق دے کوم چي د عربی ژبي مؤنث تکے دے- په بېلا بېل لغتونو کښي يي معني څه دا ډول دي-

په ظفراللغات کښي يي معني ده:

**"خاندان، عام خلک، عوام، د څو قبيلو مجموعه "[1].**

دا رنګ په پښتو اکېډيمي لغت کښي د قام معني داسي رقم ده

**"(قا±م) -{اس-مذ-ج:ونه}- د "قوم" بدل شکل-اولس-قوم-وګړے" ـ[2]**

په نسيم اللغات کښي د قوم معني ده:

"آدمیوں کا گروہ، فرقہ، خاندان، نسل، ذات۔" -[3]

ژباړه : د بنيادمو يو ټولګے، فرقه، کورنۍ، نسل، ذات-

د شلمي پېړی د چېمبر لغت ترمخه:

**"Body of people marked off by descent, language, culture or historical tradition. The people of a state."[4]**

ژباړه : د خلقو يو ټولګے چي ژبه، کلتور او تاريخي دود دستور لري- د يو رياست خلق-

دغه شان ځيني پوهانو هم د قوم، قوميت او قام پرستی تعريفونه په خپل خپل انداز سره کړي دي چي دلته يي د نور وضاحت په غرض ذکر ضروري ګنم-

پوهاند جان رورکي د قوم د تعريف په اړه وائي چي:

**"کله چي څه وګړي په يوه خاص سيمه کښي اوسېږي او د مغوي د نورو خلقو نه جدا تهذيب، ثقافت، کلتور او پېژندګلو وي او دغه خلق په سياسي توګه خپلي هلي ځلي کوي، قوم بللے شي"-[5]**

دا رنګ پوهاند تاج محمد بسيج وائي چي:

**"A number of families constitute a band, several of whom ultimately join to form a clan,Clan's in turn unite to form a tribe,and tribes are time to join together to form a nation"[6]**

ژباړه : يو څو کورنۍ چې را جمع شي نو ټبر شي. څو ټبر چې را جمع شي نو هغه خېل شي او څو خېلونه چې يو ځائے شي نو قبيله تري جوړه شي او چې څو قبيلې يو ځائے شي نو قام تري جوړ شي۔

د دې پورته لغتونو او پوهانو د وېناګانو نه واضحه شوه چې قوم د انسانانو هغه ډلې ته وائي چې ژبه، نسل، وطن، کلتور او مذهب يې يو وي او هم دا په نړۍ کښې د هغوي د پېژندګلو ذريعه وي۔ او کوم څوک چې په خپل قام وياړ او فخر کوي نو دې ته قوميت يا قام پرستي وغېره وئيلې شي۔

مولانا ابو الاعلي مودودي د قوميت په حقله ليکي چې:

"اس میں شک نہیں کہ قومیت کی ابتداء ایک معصوم جذبہ سے ہوتی ہے۔یعنی اس کا مقصد اول یہ ہوتا ہے کہ ایک خاص گروہ کے لوگ مشترک مفاد ومصالح کے لیے عمل کریں۔اور اجتماعی ضروریات کے لیے ایک قوم بن کر رہیں۔ لیکن جب ان میں قومیت پیدا ہو جاتی ہے تو لازمی طور پر، عصبیت کا رنگ اس میں آجاتا ہے۔اور جتنی جتنی قومیت شدید ہوتی جاتی ہے۔اس قدر عصبیت میں بھی شدت بڑھتی چلی جاتی ہے۔جب کبھی ایک قوم اپنے مفاد کی خاطر اور اپنے مصالح کی حفاظت کیلئے اپنے آپ کو ایک رشتہ اتحاد میں مسلک کرے گی یا باالفاظ دیگر اپنے گرد قومیت کا حصار چن لے گی تو لازما وہ اس حصار کے اندر والوں اور باہر دانوں کے درمیان اپنے اور غیر کا امتیاز کرے گا۔اپنے کو ہر معاملہ میں غیر پر ترجیح دے گا غیر کے مقابلے میں اپنے کی حمایت کرے گا"۔[7]

ژباړه : په دې کښې شک نشته چې قوميت يوې معصومې جذبې نه شروع کيږي ، يعني ددې مقصد اول دا وي چې د يوې خاصې ډلې خلق د خپلې شريکې ګټې وټې او مصلحتونولپاره عمل کوي او د شريکو ضرورتونو لپاره يو قام جوړ شي۔ خو چې کله په دوي کښې قوميت پېدا شي نو لازمي ورسره عصبيت هم سر وهي او چې څومره قوميت وده موومي هم چې دغه هومره ورسره عصبيت زياتېږي۔ کله يو قوم د خپل مفادو او مصلحتونو د ساتنې د پاره خپلو کښې د يو والي په يوه رشته کښې ځانونه تړي۔ په نورو ټکو کښې د قوميت يوه قلعه د ځان نه تاؤ کړي نو ارو مرو به د دغه قلعه دننه او بهر خلقو کښې بېلتون کوي خپل به په هره معامله کښې د پردو نه ښه ګڼي او د پردو په معامله کښې به خپلو ته ګټه رسوي۔

د دغه شان ويبستر لغت د قوميت تعريف داسې کوي،

**"Loyalty and devotion to a nation, a sense of national consciousness exalting one nation above all others and placing primary emphasis on promotion of its culture and interests as opposed to those of others nations or supranational groups"[8]**

ژباړه : د يو قام لپاره وفاداري، اخلاص او د قومي آګاهي احساس او د يو قام د نورو قامونو نه غوره او لوړ ګڼل او

د نورو قومونو او سوپر نېشنل ډلو په مقابله کښې د دغه قام د مفاداتو او د کلتوري قدرونو پرمختيا ته خاص پاملرنه کول-

اردو انسايکلو پيډيا په دې لړ کښې وائي: چې،

**"قومیت کا مفہوم وسیع پیمانے پر ملک اور ملت کا بھی ہوتا ہے۔اس صورت میں اس کیلئے انگریزی مترادف Nationality ہے۔ مثلاً فلاں کی قومیت کیا ہے۔اور جواب ہوتا ہے پاکستانی۔ سوشلسٹ اصطلاح میں قومیت سے مراد وہ چھوٹی قوم ہے۔ جو کسی بڑی قوم کی جغرافیائی حدود میں آباد ہو۔ مثلاً سابق سوویت یونین پندرہ قوموں اور ایک سو کے قریب چھوٹی قوموں یا قومیتوں کی یونین تھی۔اور سوویت آئین کے رو سے ان سب کو مساوی حقوق حاصل تھے "۔[9]**

ژباړه : د قوميت مطلب په پراخه پيمانه د ملک او ملت دے- په دې اړه د دې لپاره د انګريزي مترادف ټکے Nationality دے- د مثال په توګه د فلاني قوميت څه دے؟ او ځواب وي پاکستاني- په سوشلسټ اصطلاح کښې د قوميت نه مراد هغه وړوکے قام دے چې د لوئ قام په جغرافيايي حدونو کښي آباد وي- لکه د مثال په توګه پخواني سوويت يونين و پنځلسو قامونو او سلو خواو شا وړو قامونو يونين ؤ او د سوويت آئين له مخه دوي ټولو ته يو شان حقونه حاصل وو-

هم دا رنګ د قام پرستۍ تعريف په اردو انسايکلو پيډيا کښې داسې رقم دے:

**"اپنی قوم کو دیگر اقوام کی نسبت برتر سمجھنا اور اس سے بے پایاں وفاداری کا اظہار کرنے کا جذبہ قوم پرستی کہلاتا ہے۔اس جذبے کی بنیاد ان احساسات پر ہوتی ہے۔ سرزمین وطن سے وابستگی، قوم کے ثقافتی اور تاریخی ورثے پر فخر و مباہات اور قومی ورثے کا اندرونی و بیرونی تحفظ "۔[10]**

ژباړه : خپل قوم د نورو قومونو نه غوره ګڼل او د دې سره د بې کچه وفاداري و اظهار جذبې ته قوم پرستي وايي. د دي جذبې بنياد په دې احساساتو ولاړ وي- د خپلې خاورې سره تړون په قامي تاريخي او ثقافتي ورثه وياړ کول او د قامي ورثې دننه بهر روزنه او ساتنه-

د قوميت يا قام پرست دپاره په انګرېزۍ ژبه کښې د NATIONALIST تورے کارولے کيږي او قام پرستۍ ته NATIONALISM وئيلې شي- په دغه اړه ځلمے هېواد مل وائي چې:

**"هر هغه څوک نېشنالسټ دے چې د خپل ملت او هېواد د خوشالۍ له پاره کار کوي- د نورو د ظلم او زور څخه ئي ژغوري او يا ورته ازادي اخلي- دغه هلې ځلې که اقتصادي، سياسي او مذهبي بڼه ولري نو په ساده ژبه کښې دې عمل ته نېشناليزم وئيل کېدې شي - هر هغه څوک چې د نېشنالېزم او نسل پرستۍ تر نوم لاندې نور قومونه لوټي او تباه کوي د دوي کلتور**

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.4 2021

اقتصاد ژبه او پېژندنه له مېنځه وړي دې عمل ته Negative nationalism وئيلي کيږي" -[11]

د دې پورته يو څو بېلا بېلو لغتونو او پوهانو د وېناګانو نه دا خبره واضحه او په ډاګه شوه چې قوميت يا قام پرستي د هغه سپېڅلي جذبې نوم دے په کوم کښې چې يو انسان په خپل قام د هر چا نه زيات خفه کيږي، د هر قسم ظلم و ستم نه يې ژغوري، د هغوي د پرمختګ او خوشحالۍ دپاره هلې ځلې کوي، د هغوي اخلاقي روزنه کوي او هر هغه څه کوي د څه په ذريعه چې هغه خپل قام د نورو ترقي يافته او خوشحال قامونو سره سيال کړي-

دغه هڅې او زيارونه د خپل قام غم خوړلي او فکر مند وګړي د خپل وس مطابق په بېلابېلو ډولونو کوي- څوک په عملي توګه بوخت وي او څوک د قلم او فن په وساطت سره-

په دغه صف کښې علي خېل درياب هم د خپل پښتون قام بېرغ په لاس نيولے ولاړ دے او د دې د سرلوړۍ، پرمختګ، سوکالۍ، او بقا دپاره د خپل قلم او فن په ذريعه په شعوري توګه کوشش کوي او د خپل نثري ليکونو نه سربېره يې په خپله شاعرۍ کښې دې موضوع له فراخه ځاۓ ورکړے دے- چې دلته پرې د قوم او قوميت د بېلا بېلو عناصرو په بنه بحث کولې شي-

**نسل:**

نسل چې لغوي معنٰې يې ده شروع، اغاز، ابتدا، مونډيز يا سرچينه- په اصطلاح کښې څوک په کوم قام کښې زېږېدلے وي هغه د دغه تن نسل بللې شي- لکه پښتانه آفغان يا پښتون نسل بللې کيږي- په بله معني کښې دا ذات يا حسب نسب هم بللې کيږي- دا يو فطري او جبلي عمل دے چې انسان د خپل نسل او ذات سره مينه لري، ننګ پرې کوي او د دې د بقا او سوکالۍ دپاره د خپل وس او استطاعت مطابق تګ و ذو کوي- او په دې لړ کښې هغه د خپل سر و مال په زيان هم سرفه نه کوي-

علي خېل درياب هم په خپل نسل او ذات وياړ کوي او د خپل قام پاله تخئيل نيلي د پښتو ادب په مېدان کښې زغلوي- هغه خپل قامي تشخص د خپل ژوند سرچينه ګڼي او په دې هغه چرته هم سمجهوته نه کوي، لکه چې وائي:

"دريابه زه خو چې ژوندے يم په قامي تشخص
واره مې نه راځي په هېڅ د پښتانه اول"[12]

"په قامي ناورين اخته يمه دريابه

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.4 2021

بل یو غم مې په ناورین کښې نه
ځائېږي"[13]

هغه ښه په جار د خپل پښتون نسل د روښانه او آمن خوشې فکر دعوه کوي- لکه چې وائي:

"دا ځکه خو ساتي زمونږ نسلونه په
تیارو کښې
زمونږه چې نسلونه د تېرو په حق
کښې نه دي"[14]

دریاب د خپل پښتون قام او نسل د سباؤن دپاره هم فکر مند دے- هغه دا خپله او د موجوده دور د عام و خاص تولو یوه مهمه فریضه ګڼي چې د راتلونکي نسل د ښه روزنې دپاره دې هڅې وکړې او دا قام دې یو روښانه سباؤن ترلاسه کړي- لکه چې وائي:

"ځان ته پښتون وئیل به لوئے شرم
ګڼی پښتنو،
که د راتلونکي نسل مونږه تربیت
اونه کړو"[15]

"څه نه څه قام له خو کول دي کنه
مونږ ته راتلونکي زمانه به ګوري"[16]

په دغه حواله هغه د خپل افغان قام تر ټولو لویه کمزوري او کمے د دوي د بې تعلیمه پاتې کېدل ګڼي او دا هغه د پښتنو د وژولو سره تعبیروي او د دشمن یو ناوړے چال ګڼي- لکه چې وائي:

"بې زده کړې یې ساتلے یا په سوال
یې راړولے
وژلے یې آفغان دے خو یا داسې او
یا داسې"[17]

**ژبه:**

ژبه د انسانانو د یو بل سره د اړیکو او د خپل مافي الضمیر د اظهار یوه لویه ذریعه ده او په نړی کښې بنې نوع انسان خاصه ده- دا د اشاري، صوتي یا د لیکلو په طریقه هم کېدې شي او د وینا یا خبرو اترو په طریقه هم- ژبه د یو قام په راغونډ ساتلو کښې تر ټولو مهم کردار لوبوي او د دغه قام د پېژندنې او شناخت لویه ذریعه وي- د ژبې د

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.4 2021

ارزښت او اهمیت نه انکار نه شي کېدي او د دي اهمیت د الله د کلام نه هم څرګند دے- په قرآن پاک کښي الله تعالٰي فرمائي:

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّ بِلِسَانِ قَوْمِ هِلِ يُبَيِّنَ لَهُمْ[1]

ژباړه : مونږ رسول نه دے لېږلے مګر د هغه قوم په ژبه کښي لپاره د دي چي هغوي ته خپل پېغام ورسوي-

د يوي ژبي دپاره ضروري لازم دي چي د هغي ويونکي يي قدر اوکړي او د دي د بقا او پرمختګ دپاره هڅي اوکړي- علي خېل درياب هم په پښتنه خاوره کښي سترګي غړولي دي پښتو يي مورنى ژبه ده- د خپلي ژبي سره بي کچه مينه لري، د خپل عزت او وقار وسيله يي ګڼي- ځکه يي خپل ژوند د پښتو ژبي روزني او سيالى ته وقف کړے دے- لکه چي وائي:

" ما ورته درياب ژوند بخښلے دے،
کار مي د پښتو ژبي روزنه ده"[18]

"دريا به زه ورپسي ځم تر اخري حدونو
د خپلي ژبي د سيالى نه به مي څوک اړوي"[19]

" زه به څنګه د پښتو سندري نه ويم
تشخص يي رابخښلے دے هم نوم دے"[20]

"ځان په دي فلسفه پوهه کړه پښتونه
په پښتو کښي ستا غرور دے او ستا وياړ دے"[21]

درياب د هغه چا غندنه هم په سختو الفاظو کښي کوي څوک چي د پښتو ژبي قدر نه کوي، په سپکه ورته ګوري او د پښتو په حق کښي نه وي- هغه د خپلي ژبي سپکول د ځان ورکولو سره تعبيروي، لکه چي وائي:

[1] سوره ابراهيم ايت ۴

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.4 2021

"ځان ورکول دي د پښتو سپکول
زه خو تري دغه يو پيغام اخلم"22

"اوس پښتنو ته پښتو داسي لګي
لکه بوډۍ چي له سينګاره اوځي"23

"دريابه بيا خو ټولو ته لنګونه
تړل غواړي
دريابه پښتانه چي د پښتو په حق
کښي نه دي"24

"چي ځان ورته بد ښکاري په پښتو
ژبه وئيلو
په دغسي د شرم په ډولکو خبري
اوکړو"25

"خپلي ژبي خپل کلتور پوري خندا
کړي
پښتانه ګوره په دي غضب اخته دي"26

" دا چي خپل تهذيب او ژبي ته کوز
ګوري
دا دريابه انتها د بې حسۍ ده"27

"چي پښتو ته سپک نظر کوي دريابه
علامې د پښتنو ورکېدو دي"28

"دغه کوي چي د پښتو غندني
اغوستې دغه سړي لنګ دې کنه"29

دا رنګ درياب د نرۍ د دي حقيقت هم قائل دے چي د يو قام د پرمختګ دپاره لازم دي چي د هغوي تعليمي نصاب دي په خپله مورنۍ ژبه کښي وي- خو له بده مرغه زمونږ د قام بچو ته په پردۍ ژبو کښي دغه عمل ترسره کيږي چي د څه له عمله زمونږ تعليمي معيار وروستو او خراب دے- لکه چي وائي:

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.4 2021

"یو مې بچي ته په پردی ژبه کښې زده
کړه کوي
بل د پردو خلقو نصاب دے څوک پرې نه
پوهیږي"[30]

"تا د نصاب نه د پښتو جنازه
اوویستله
دا دې بې خي د پښتنو جنازه
اوویستله"[31]

"د پښتنو نه دې ساه اوویستله
چې د پښتو نه دې ساه اوویستله"[32]

"زما تاریخ زما کلتور چې پکښې نه
وي سړو
بیا به زما بچي پردي نصاب ته څنګه
ګوري"[33]

## مشري:

لکه څنګه چې په هر څه او هر ځائے کښې یو مشر، لارښو او رهنما پکار وي داسې د یو قام دپاره هم یو داسې مشر ارو مرو پکار وي چې هغه په هر لحاظ د یو سپېڅلي کردار مالک، د زیرک نظر او د دوراندیش شخصیت خاوند وي- د دې نه سربېره هغه دې د فېصلې کولو فهم و فراست هم لري او په هر حال کښې دې غېر جانب دار او منصف وي- د ظلم خلاف د اودرېدو جرات او په هر حال کښې د خپل قام حقونو ترلاسه کولو همت دې هم پکښې وي- که داسې صفاتو واله مشر کوم قام ته مېلاو شي نو هغه قام به د هرې ستونزې مقابله اوکړي او د خوشحالۍ، امن او پرمختګ په لار به روان شي- او چې په کوم قام کښې د دې فقدان وي نو هغه به تل د بېلابېلو ستونزو، کشالو او استحصال سره مخ کیږي او غېر غماز به یې حقونه تروړي-

د ښاغلي علي خېل دریاب زېرک نظر د خپل قام په دې مهم کردار هم دے او هغه په دې حوالې سره د قام د مشر د کردار د اهمیت نه ښه خبر دے- هم دا وجه ده چې هغه په خپل کلام کښې مشرۍ ته د هرې زاویې نه کتلي او بیان کړي دي- هغه خپل قام له داسې رهنما او مشر غواړي چې هغه د دوي هر قسمه ستونزي حل کړي او په یوه پانه یې راغونډ کړي- لکه چې وائي:

"خدایه یو مشر درنه غواړمه خو داسې مشر
خدایه په ستونزو چې د دې زپلي قام پوهېږي"[34]

" بې مرامه بې رهبره پښتانه دي
په تیاره کښې د ړندې اوښې سواره دي
یو مشر ورله پکار دے د یووالي
د نفاق په پرهرونو کښې اوبه دي"[35]

دغه رنګ هغه د پښتون قام د ټولو نه لویه کمزوري او بدحالي دا ګڼي چې په نړۍ کښې د کروړونو په شمېر باوجود په دوي داسې سترګه ور مشر نشته چې د دې قام زړه پرې د اطمینان اوبه اوڅښي- لکه چې وائي:

"وړ پکښې دریابه د پټکي نشته
هسې په لر ګورم په بر ګورمه"[36]

" پښتانه دي د اووه کروړه نه بره
خو جوګه د مشرۍ پکښې څوک نشته"[37]

"په اووه کروړه کښې ګوره اهل نشته
چې نا اهلو ته مو پاتې مشري ده"[38]

دا بې خي د مشرانو نااهلي ده
دا چې نن دومره بدحاله زما قام دے"[39]

دغه شان هغه د داسې بې ضمیره او سوداګرو مشرانو هم په واز کومې غندنه کوي څوک چې مشري محض د ځاني فائدې دپاره کوي او د خپل قام سودا د غېر غمازو سره کوي- لکه چې وائي:

"خدایه تر څو به مشري د دې خرسرو کوي
دا بې ضمیره سوداګر د پښتنو

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.4 2021

قاتلان"[40]

"چې په اولس کښې يې چاودنې کوي
د اولس مشر يې مننې کوي
په ناکرده جرم کښې وخت نيولې
په پښتنو باندې مېچنې کوي
د پښتنو سره دا څه روان دي
خلق د څه څه انګېرنې کوي

دريا به دا وطن به څنګه ښه شي
چې سربراه يې لاس وهنې کوي"[41]

"سودا چې په ډالرو کړي زمونږه
د سرونو
د داسې مشرانو په دندو خبرې
اوکړو"[42]

"نن په يوه کشتۍ کښې ناست سبا په
بله کښې ناست
مشره والله په نظريو باندې دې لوبې
وکړې"[43]

"دا اولس به ترې نه ښاده څنګه
وينې
مشران چې يې کره او پوره غله
دي"[44]

## کلتور:

کلتور چې په نورو معنو کښې ثقافت هم بللې کيږي دا د يو قام د ژوند د تېرولو کلهمو طور طريقو ته وئيلې شي چې پکښې د دغه قام دودونه دستورونه، مذهبي عقيدې، ژبه، علوم و فنون، جامه پېزار، کالي پترې، موسيقي او د دې سره تړلي اوزار، ادب، ودانۍ، ارمانونه، خوبونه، صلاحيتونه، عادتونه لنډه دا چې د ژوند هر اړخ شامل دے۔ د کلتور ژوندي ساتنه د يو قام د بقا ضامن وي۔ د کلتور د اهميت په اړه ښاغلے لال باچا ازمون ليکي چې:

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.4 2021

"لکه څنګه چې د یوې ودانۍ د ودرېدو دپاره مضبوط بنیاد مهم وي نو دغسې د یو قام لپاره کلتور مهم دے"-[45]

کلتور اکثر د یو قام د بل نه جدا او بدل وي څکه نو دا د یو قام د پېژندګلو اهمه ذریعه هم وي- د کلتور د ژوندي ساتلو دپاره ضروري ده چې په هر ډګر دې د دې خپرونه او تذکره د دې د اهمیت رابرسېره کولو په غرض وشي- چې د یو نسل نه بل ته منتقل شي- څکه نو دریاب په خپل کلام کښې د خپل پښتني کلتور سندرې وائي:- لکه چې وائي:

مونږ د خپل تهذیب د بقا جنګ
کوؤ
مونږ خپله پښتو امر کوؤ او څو"[46]

هغه خپل پښتني کلتور د خپل تشخص یوه لویه ذریعه ګڼي او په دغه لړ کښې هغه په هغه بې ننګه پښتنو هم غږ کوي کوم چې د خپل کلتور نه باغیان دي او سپکاوې یې کوي:

"یا پښتنو د خپل کلتور د
سپکاوي نه واورئ
د تشخص ځان له پخپله شکرې مه
ماتوئ"[47]

"دا چې خپل تهذیب او ژبې ته
کوز ګوري
دا دریابه انتها د بې حسۍ ده"[48]

"خپله ژبه او تهذیب یې دي هېر
کړي
د پښتون بابا بچي وهلے لنګ
دے"[49]

د مغربي تهذیب او کلتور اثرات زمونږ په پښتني کلتور دومره راخواره دي چې زمونږ خپل قامي تشخص ته یې ډېر زیان رسولے دے- څکه نو دریاب د خپل کلام په ذریعه د دغه مغربي هواګانو دفاع ته لکه د غر ولاړ دے او وائي:

"د مغربي تهذیب بربند یرغله
د انسانانو نه جامې اووتې"[50]

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.4 2021

"د مغربي اثر سپېره یرغله
خپلو جامو نه هم انسان اووتم"[51]

دا رنګ هغه د خپل پښتني کلتور هر توکے د شعر په ژبه بیان کړے او ستائلے دے او دا عمل یې د هغه د خپل کلتور سره د بې کچه مینې په لرلو دلالت کوي- لکه:

**حجره:**

"کټونه سم وي اړولي نه وي
اوس چې حجرې ته کله خان راوځي"[52]

**ښادي/ټنګ ټکور:**

"د غه ښادي د پښتنو به نه وي
چې پکښې ډنګ و نه شي ټنګ و نه
شي"[53]

**اشر:**

"دریابه کلے کلوبغي پالمه
پرون مې ټوله ورځ اشر کړے دے"[54]

**لوبې:**

"دریابه د مغرب نه داسي خوشي لوبې راغلي
زمونږ د پټ پټوني، اله داد بنیاد یې
اوویست"[55]

**وطن:**

د خپل وطن او خاوري سره مینه لرل د ایمان حصه ګڼلي کیږي- دا د انسان فطرت دے چې هغه په کوم ځائے کښې سترګې غړولي یې او ژوند کوي د هغه ځائے سره به ارو مرو مینه لري، د هغه ځائے د حفاظت دپاره به هر قسمه قربانۍ ته هر وخت چمتو وي او د هغې د آمن او خوشحالۍ دپاره به د خپل وس مطابق هلې ځلې کوي- دریاب هم د پښتني خاوري یو داسي بچے دے چې په خپله خاوره او وطن د ویاړ کولو سره د دې وطن د بقا او د غلیم د ناوړو منصوبو برخلاف خپل قلم لکه د توري چلوي او د خپل وطن د

عزت، ناموس او بقا دپاره جنګ ته یې د ادب سنګر نیولے دے- که مونږ د پښتون قام تاریخ ته زیر شو نو ښکاره ده چې تر دې دمه دا قام او دا خاوره د جنګونو، جګړو، بدآمنۍ، ترهه ګرۍاو استحصال سره مخ ده- زیات تر وخت یې د نورو د اختیار او تسلط لاندې تیر کړے او تیروې ځکه د دې خاورې او وطن د ذکر سره دغه ذکر شوي حالات ارومرو او مجبورًا ذکر کیږي- لکه چې وائي:

"د ارمان د سوي کور په ایرو ناست یو
پښتانه د وخت د اور په ایرو ناست یو
بې نوا په خپله خاوره کښې یو داسې
لکه ځلي ته د مور په ایرو ناست یو"[56]

دا چې په لر بر یې سرو وینو سینګار کړے دے
زما په خیال چې پښتنو ته چا ازار کړے دے"[57]

"دا چا نظره کړے دے زمونږه د ښار آمن
وریږي هره شپه یې مرد کي په دېوالونو"[58]

"دا چا پرې ورانه کړه ودانه اخر چرته لاړ شي
دا پښتانه د پښتونخوا نه اخر چرته لاړ شي
دا دې خاورې استوګن جدیدې پښتانه
دغه یو سوال دے د هر چا نه اخر چرته لاړ شي"[59]

" چا په وطن باندې سرونه کې ښوه
چا د سرونو یې سودا اوکړه"[60]

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.4 2021

"دریابه دا زمونږ په خاوره باندې
ځه شوي دي
چې په ناکرده ګناه واړه لوئ واړه
سوزېږي"[61]

د علي خېل دریاب شاعري د قومیت یا قام پرستۍ په حواله د سنجولو نه دا معلومه شوه چې هغه د په دې موضوع ښه ډېره او معیاري شاعري کړې ده او په شعوري توګه یې د خپل قام او قومیت پرچار او دفاع کړي ده- په دغه لړ کښې هغه خپل هغه قام پاله خیالات د شعر په ژبه بیان کړي دي کوم چې د یو قام د پرمختګ، سوکالۍ او دفاع دپاره ډېر مهم او ارزښتناک وي- خپلې خبرې د علي خېل دریاب په دې شعر راغونډوم چې پښتنو ته یې پکښې نصیحت کړے دے- لکه وائي:

"دا کوَل دې هم ښه دي خو دا ورپکښې
هم اوکړه
کار اوکړه خپل ځان لره خو قام له
پکښې نوم اوکړه"

**حواله جات: (References)**

[1] کاکا خېل، بهادر شاه ظفر، ظفر اللغات، پېښور، پاکستان، ایجو کېشنل پریس کال ۱۹۸۱ء ، مخ : ۱۰۵۰

[2] پښتو اکېډمي لغت، مؤلفین: ډاکټر خیال بخاري، ترتیب او سمونه: پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر، ناشر: پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي خېبر پښتونخوا پاکستان، کال: ۲۰۱۸ء، مخ : ۱۳۱۷

[3] امر وهوی، قاسم رضا نسیم و سید مرتضٰي، حسین فاضل لکهنو، سن ندارد، جامع نسیم اللغات اردو، کراچي ، مخ : ۸۵۶

[4] *Chamber 20th century dictionary 1983, p-842, Ricard clay limited*

[5] *1 Education, New Yark 2002, Page: 99*

[6] بسیج، تاج محمد بلوچ، *Nationalism, its origin and development*، مخ : ۲۰

[7] مودودي، سید ابوالاعلي، ۱۹۴۷ء، مسلہ قومیت، پٹھانکوٹ، مکتبہ جماعت اسلامی دارالاسلام جمال پور (طبع ) مخ:

[8] *Webster 9th New collegiate Dictionary, USA, P-788*

[9] فیروز سنز، ء، اردو انسائیکلوفیڈیا، 4th ایڈیشن، لاہور، فیروز سنز پرائیویٹ لمیٹڈ، مخ:

[10] هم دغه اثر، هم دغه مخ

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.5 No.4 2021

[11] هيواد مل، ځلمې، فرهنګيالې خوشحال، د سيمينار د مقالو ټولګه، مقاله، علي خان مسود، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني، کال : ۲۰۱۰ء ، مخ : ۹۸

[12] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آمانده، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۷۹

[13] علي خېل درياب، ډاکټر، رنګونه په زنځير، چاپونکي: ګران خپرندويه ټولنه، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۱۰۸

[14] علي خېل درياب، ډاکټر، سندريز الهام (دويم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آمانده ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ: ۹۳

[15] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آمانده، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۲۴

[16] هم دغه اثر، مخ: ۲۷

[17] هم دغه اثر، مخ: ۴۲

[18] علي خېل درياب، ډاکټر، رنګونه په زنځير، چاپونکي: ګران خپرندويه ټولنه، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۱۴۱

[19] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آمانده، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۸۱

[20] هم دغه اثر، مخ: ۱۸۵

[21] علي خېل درياب، ډاکټر، سندريز الهام (دويم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آمانده ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ: ۱۴۹

[22] هم دغه اثر، مخ: ۱۹۰

[23] هم دغه اثر، مخ: ۱۵۵

[24] هم دغه اثر، مخ: ۹۴

[25] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آمانده، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۱۱۷

[26] هم دغه اثر، مخ: ۱۷۱

[27] علي خېل درياب، غزل بڼ، کال: ۲۰۰۳ء، مخ: ۸۵

[28] هم دغه اثر، مخ: ۱۶۷

[29] علي خېل درياب، ډاکټر، رنګونه په زنځير، چاپونکي: ګران خپرندويه ټولنه، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۵۳

[30] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آمانده، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۱۱۰

[31] هم دغه اثر، مخ: ۱۱۹

[32] هم دغه اثر، مخ: ۵۵

[33] علي خېل درياب، ډاکټر، رنګونه په زنځير، چاپونکي: ګران خپرندويه ټولنه، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۱۰۹

[34] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آمانده، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۱۸۷

[35] هم دغه اثر، مخ: ۱۳۱

[36] هم دغه اثر، مخ: ۱۶۷

[37] هم دغه اثر، مخ: ۱۸۵

[38] هم دغه اثر، مخ: ۳۳
[39] هم دغه اثر، مخ: ۱۰۸
[40] علي خېل دریاب، ډاکټر، سندریز الهام (دوېم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ: ۵۵
[41] علي خېل دریاب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آماندره، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۳۷
[42] هم دغه اثر، مخ: ۱۱۷
[43] علي خېل دریاب، ډاکټر، رنګونه په زنځیر، چاپونکي: ګران خپرندویه ټولنه، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۵۷
[44] علي خېل دریاب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آماندره، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۱۷۱
[45] پښتو رساله ۲۰۱۴ء پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي- مخ: ۸۰/۷۹
[46] علي خېل دریاب، ډاکټر، بهیر د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آماندره ملاکنډ، د چاپ کال نه لري، مخ: ۷٦
[47] علي خېل دریاب، ډاکټر، رنګونه په زنځیر، چاپونکي: ګران خپرندویه ټولنه، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۹۸
[48] علي خېل دریاب،ډاکټر، بهیر د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آماندره ملاکنډ، د چاپ کال نه لري، مخ: ۲۲٦
[49] علي خېل دریاب، غزل بڼ، کال: ۲۰۰۳ء، مخ: ۹۲
[50] هم دغه اثر، مخ: ۱۰۹
[51] هم دغه اثر، مخ: ۱۲۷
[52] علي خېل دریاب، ډاکټر، د رنګونو لپې، چاپونکي: ګران خپرندویه ټولنه، کال: ۲۰۲۴ء، مخ: ۹۵
[53] علي خېل دریاب، ډاکټر، رنګونه په زنځیر، چاپونکي: ګران خپرندویه ټولنه، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۷۳
[54] هم دغه اثر، مخ: ۱۴۴
[55] علي خېل دریاب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آماندره، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۱۹
[56] علي خېل دریاب، ډاکټر، سندریز الهام (دوېم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آماندره ملاکنډ، کال: ۲۰۲۰ء، مخ: ۴۵
[57] هم دغه اثر، مخ: ۵۲
[58] هم دغه اثر، مخ: ۷۸
[59] علي خېل دریاب، غزل بڼ، کال: ۲۰۰۳ء، مخ: ۷۷
[60] علي خېل دریاب،ډاکټر، بهیر د جمال، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) آماندره ملاکنډ، د چاپ کال نه لري، مخ: ۴۷
[61] علي خېل دریاب، ډاکټر، رنګونه په زنځیر، چاپونکي: ګران خپرندویه ټولنه، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۷۳